# د باچا خان د آزاد سکول طالب علم

## پروفېسر جهانزېب نیاز

ادارہ

**پښتون:** مونږ به ستاسو نه اولنی پوښتنه دا وکړو چې تاسو خو په ازاد سکول کښې سبق وئیلے دے نو په دغه حواله راته څۀ ووایئ؟

**نیاز:** زۀ د څلورم جماعت پورې د رځړو په سرکاري سکول کښې وم، بیا مې ضد شروع کړو چې ما ازاد سکول ته بوځئ. د دې دپاره به زۀ د سکول نه پټېدم نو بیا مې کورنی مجبوره شوه او ازاد سکول ته ئې بوتلم.

**پښتون:** ولې تاسو ئې ازاد سکول کښې داخلول نۀ غوښتئ؟

**نیاز:** نوره څۀ وجه نۀ وه خو هغه وخت زۀ ډېر وړوکے وم، سکول په اتمانزو کښې ؤ او مونږ په رځړو کښې اوسېدو. زۀ ازاد سکول کښې ډېر خوشحاله وم، هغه وخت ماسټر کریم د سکول هېډ ماسټر ؤ او زما ورور فدا محمد سېکنډ ماسټر ؤ، د ماسټر صېب تنخوا ۴۰ روپۍ وه او زما د ورور ۲۰ روپۍ وه.

**پښتون:** د ازاد سکول د تعلیم و تربیت په حقله راته څۀ ووایئ؟

**نیاز:** ازاد سکولونو کښې خو اسانۍ هم دومره نۀ وې، په څپرونو کښې به ناست وو، فرنیچر هم نۀ ؤ، ماشومان به په سرګړي ناست وو او استاذ به په درۍ ناست ؤ، هغه وخت ازاد سکول ته اکرم خان (د ګل اباد د نثار خان نیکۀ) خپل کور ورکړے ؤ.

**پښتون:** ازاد سکولونه رجسټرډ وو کۀ نۀ وو، یعنې دا د کومې ادارې سره منسلک وو کۀ نه؟

**نیاز:** ازاد سکولونه د جامعه ملیه ډیلي سره تړلي وو.



**پښتون:** تاسو ازاد سکول کښې څو‌م جماعت پورې سبق ووئیلو؟

**نیاز:** زۀ اتمه پورې ازاد سکول کښې وم، بیا چې ۱۹۳۷ء کښې د کانګرس حکومت جوړ شو نو مونږ ټولو ته ووئیلے شو چې تاسو اوس سرکاري سکول ته لاړ شئ نو زۀ بیا د چارسدې ګورنمنټ هائي سکول کښې داخل شوم.

**پښتون:** ازاد سکول کښې تاسو څۀ زده کړل چې سرکاري سکولونو کښې نۀ وو؟

**نیاز:** هلته یو خو د نصابي هلو ځلو نه علاوه غېر نصابي هلې ځلې هم وې، یو زیارت به زمونږ د تقریرونو مقابله وه، بل زیارت به بېت بازي وه، سټېج ډرامې به وې. بل مونږ کښې سیاسي شعور

پیدا شو او د ازادۍ په قدر قیمت پوهه شو. اتمانزو ته چې به د هندوستان نه څوک هم سیاسي لیډر راغے نو باچا خان به سوال ځواب وکړو چې نن به سکول ته ګاندي جي، جواهر لال، مولانا ازاد، حسین احمد مدني یا نور څوک زما سره درځي.

یوه ورځ جواهر لال نهرو ازاد سکول ته راغے ماته هغه شعرونه اوس هم یاد دي چې جواهر لال ته مو وئیلي وو.

اوج مین آیا همارا کوکب اقبال هے
دو بدوئے چشم مشتاقان جواهر لال هین
دید کے هم منتظر تهے کیا کهین کس وقت سے
چاهتے تهے آپ سے که کیا همارا حال هے
اے خدا وه دن دکها ازاد هندوستان هو
اور جواهر لال نهرو اولین پردهان هو

مونږ چې هغهٔ ته کومه سپاسنامه وړاندې کړې وه، دا هغې کښې وو، دغه شان کهٔ ګاندي جي به راغے یا کهٔ مدني صیب یا مولانا ازاد نو د هغوي خبرو او تقریر به په مونږ کښې یوه جذبه او همت را پیدا کړو، نو دا خو په سرکاري سکول کښې نهٔ وو کنه.

**پښتون:** تاسو د عملي سیاست ابتداء د کوم وخت نه وکړه؟

**نیاز:** زهٔ چې سرکاري سکول ته لاړم، نهم جماعت کښې وم، چهټیانې وې نو نتیاګلۍ ته تلے وم، واپس چې راتلم نو ګاډي کښې د یو سړي سره "ملاپ" اخبار ؤ، هغې کښې دا خبر چاپ ؤ چې سرکاري سکولونو کښې د انګرېزانو سلېبس دے نو دا سکولونه پرېږدئ چې مونږ ازاد شو ځان له به خپل سلېبس جوړوو. اخبار کښې دا خبر هم ؤ چې نن



ایبټ اباد کمپني باغ کښې د خدائي خدمتګارو جلسه ده، زهٔ نبغ جلسې له لاړم، هلته فقیرا خان ډېر زبردست تقریر وکړو، دغه وخت "هندوستان پرېږدئ" تحریک شروع شوے ؤ. ما فیصله وکړه چې لاړ شم نو سکول کښې به د کانګرس تنظیم جوړوم، کلي ته چې راغلم نو تنظیم مو جوړ کړو او چې چوټیانې ختمې شوې نو مونږ سټرائیک شروع کړو چې مونږ دې سکول کښې سبق نهٔ وایو، مونږ ټول به په عدالت وروختو او عدالت به مو بند کړو او جج ته به مو وئیل:

مونږه ازاد یو، تهٔ راته ګورې
مونږ سره مل شه، زمونږه ورور ئې
هندوستانے شه، هندوستان ستا دے
ځان ئې مالیار کړه، ګلستان ستا دے
سبا به بیا په، کرسۍ سور ئې
مونږ سره مل شه، زمونږ ورور ئې

**پښتون:** ستاسو د دې هلو ځلو په حقله باچا خان څهٔ وئیل؟

**نیاز:** هم هغې خبرې له راځم یوه ورځ چې مونږ سکول ته راغلو نو د سکول په چتونو مشین ګنونه لګېدلي وو، مونږ وئیل چې اوس باچا خان له تلل پکار دي، نو زهٔ، علي خان (د باچا خان کشر زوے) او پیر

محمد سردریاب مرکز ته باچا خان له لاړو، نو باچا خان زمونږ نه مخ واړوو او د خپل خفګان اظهار ئې وکړو، ما ترې تپوس وکړو چې ماما زمونږ نه په څهٔ خفه ئې؟ وئیل ئې تاسو تشدد کړے دے، د سرکاري عمارتونو شیشې مو ماتې کړې دي، دا چُغلي باچا خان ته د کلي خانانو او میاګانو کړې وه، هغوي به دا چل وکړو چې زمونږ په جلوس کښې به ئې خپل کسان راداخل کړل نو هغوي به ورانے وکړو نو ما باچا خان ته ووې چې ماما مونږ دا کار نهٔ دے کړے او چا چې تاسو ته چُغلي کړې ده هغوي پولیس راغوښتے او په سکول ئې مشین ګنونه لګولي دي. باچا خان یوه شېبه سوچ وکړو بیا ئې وئیل ورځئ پرې.

**پښتون:** نو بیا تاسو څهٔ وکړهٔ؟

**نیاز:** مونږ چې راغلو جلوس تیار ؤ، ډولکي او سُرنې مو وغږولې او په پولیسو ورغلو، په دېوال ورختو زهٔ په سر د ښنت په ګوزار ولګېدم خو د څادر پټکے مې په سر ؤ نو ورواوښتم او علي خان خو د ډېره دون نه راغلے ؤ، ماډرن هلک ؤ، سرتورسر، هغه په سر ولګېدو او واپس ګوزار شو. زهٔ نېغ د هېډماسټر دفتر ته ورسېدم او سکول مو بند کړو. خو وهل مو ډېر وخوړل. بیا ئې مونږ په کټونو کښې واچولو. زهٔ د خېشکو یو حوالدار په ښنت په ملا ډېر بد بد وهلے وم او پښه مې هم ډېره زخمي شوې وه، هسپتال ته چې ئې یوړو نو د هسپتال ور راته بند کړے شو بیا مرزا تاج محمد خان خاموش خپل د لرګو ټال ته راوړو او یو پرائیوټ ډاکټر عبدالغفور ئې راله راوستو.

> **ماسخوتن زهٔ او د دلدارګړي قاسم علي خان (الله دې ئې ژوندے لري) یو ځائے ناست وو چې د باچا خان اواز راغے انقلاب زنده باد، بیا مونږ ټولو چغې کړې تر دې چې اخلاقي قېدیانو هم زمونږ ملګرتیا وکړه او ټول جېل کښې یوه هنګامه جوړه شوه.**

**پښتون:** دغه ورځو کښې خو تاسو جېل ته هم تلي وئ، هغه قیصه څهٔ وه؟

**نیاز:** هغه د دې قیصو تسلسل ؤ، څهٔ ورځې پس زما مور ناجوړه وه، نو مونږ ښار ته راوستې وه، ډاکټر خان صاحب ئې علاج کوو، ما پسې خبر راغے چې تا پسې وارنټ دے، په هغه ټول ګروپ کښې صرف ما پسې وارنټ ؤ، بیا زهٔ پېسو پسې کلي ته تلم نو د احتیاط دپاره سردریاب سره کوز شوم او پیاده رځړو ته لاړم خو هلته د شپې د خدائي خدمتګارو جلسه وه، زهٔ ټینګ نهٔ شوم او ورله لاړم او د مخفي صبب ترانه مې پکښې ووئیله.

د شپې چې زهٔ راغلم نو نیمه شپه زمونږ د کور ور وټکېدو او چالاکي ئې دا وکړه چې زمونږ نوکر فقیر خان ته ئې اواز وکړو نو زهٔ ور ووتم او ګرفتار ئې کړم. درې میاشتې مې هري پور جېل کښې تېرې کړې بیا ئې ډېرو جېل ته ولېږلم.

**پښتون:** ډېرو جېل ته ئې ولې ولېږلئ؟

**نیاز:** هلته مونږ یو احتجاجي تحریک شروع کړے ؤ چې مونږ بهر اودهٔ کېږو ځکه چې مونږ خو تښتو نهٔ بل په ټول بارک کښې به یو لېټرین ؤ نو ډېر تکلیف ؤ. زمونږ احتجاج روان ؤ، بیا د اختر په ورځ چې ئې مونږ لوئے چمن ته بوتلو نو باچا خان یو تقریر وکړو چې مونږ به نن د اختر ډوډۍ نهٔ خورو او د ماسخوتن د مانځهٔ نه پس به درې چغې وهو، انقلاب زنده باد، ظالم حکومت برباد او نعرهٔ تکبیر

الله اکبر. ماسخوتن زۀ او د دلدارګړی قاسم علي خان (الله دې ئې ژوندے لري) يو ځائے ناست وو چې د باچا خان اواز راغے انقلاب زنده باد، بيا مونږ ټولو چغې کړې تر دې چې اخلاقي قېديانو هم زمونږ ملګرتيا وکړه او ټول جېل کښې يوه هنګامه جوړه شوه، يوه هفته پس اسمته راغے دے د جېلونو مشر ؤ او ډېر سخت سړے ؤ، وئيل ئې دوي به زۀ سم کړم خو مونږ د دۀ سره هم ناړامي کوله نو دوي مجبور شو او مونږ ئې د سزا په توګه شپېتۀ کسان ډېرو ته بدل کړو. مونږ سره د ټکر ماسم خان کاکا، د تور ډېري منفعت خان، د ميا عيسٰي زرين خان کاکا او نور کسان هم بدل شو چې د ټولو نومونه ماته ياد نۀ دي.

**پښتون:** ستاسو تعليمي سلسله بيا څنګه شوه؟

**نياز:** زۀ چې د جېل نه راغلم ضد ونيوم چې هاغه سکول ته زۀ بيا نۀ ځم، يو کال مې هم دغسې په جلسو جلوسونو او سياسي هلو ځلو کښې تېرکړو، بيا کوروالا مجبور کړم او سکول ته ئې بوتلم، هغه وخت فقير چند هېډماسټر ؤ، هغۀ وئيل تۀ حکومت ډسچارج کړے ئې. زۀ دې نۀ داخلوم. هغه وخت ايجوکېشن ډائرېکټر شاه عالم خان د ډېرو ؤ چې ډاکټر خان صاحب لګولے ؤ، هغۀ له لاړو، هغۀ وئيل داسې غلط خلق دي چې ماشومان ئې د سکولونو نه ووېستل او زندګي ئې ورله تباه کړې. ما ورته بې اختياره ووې چې او دا هغه خلق دي چې تۀ ئې په دې کرسۍ کښېنولے ئې. خبر بيا په ۱۹۴۴ء کښې زما داخله وشوه، بيا زما امتحان ۱۹۴۶ء کښې ؤ. دوه پرچې مې شوې وې چې هندو مسلم فسادات شروع شو، خدائي خدمتګار د هندوانو په کورونو د حفاظت د پاره ودرېدل، لويه هله ګوله وه، زمونږ امتحان ملتوي شو، څۀ موده پس بيا امتحان وشو، بيا د مسلم ليګ حکومت ؤ، ميا جعفرشاه ايجوکېشن منسټر ؤ، بيا پنجاب يونيورسټۍ سيکريسۍ ته چا اور واچولو نو هر څۀ وسوځېدل. زما پکښې د جيومېټرۍ او الجبرې پرچه سوې وه، نو ما د سياسي حالاتو او هلو ځلو په وجه په دومره موده کښې مېټرک وکړو، بيا اسلاميه کالج ته لاړم.

**پښتون:** تاسو خو د هغې نه پس هم ګرفتار شوي وئ، هغه څۀ قيصه وه؟

**نياز:** اسلاميه کالج کښې زمونږ ورومبے سمسټر شوے ؤ، د جولائۍ چوټيانې وې، زۀ کور وم چې تاجو بي بي (د اسفنديار خان مور) راغله، مشرۍ دوه لوڼه ورسره وې، وې ئې دا ناجوړه دي. ډاکټر له ئې بوځه. ما هغوي ټانګه کښې کښېنولې چې تلم نو دوه ټانګې پوليس مخې له راغلۀ، واپس چې راغلم زمونږ حجره د پوليسو ډکه وه. زما ګرفتارۍ له راغلي وو، دا د قيوم خان حکومت ؤ او د جولايۍ ۳۱ تاريخ ؤ، کال ۱۹۴۸ ؤ. د دې نه دولس ورځې پس بيا د بابړې واقعه وشوه.

**پښتون:** ستاسو جرم څۀ ؤ؟

**نياز:** سياسي هلې ځلې، مونږ به جلسې جلوسونه



کول ماته د جليا خان (امير نواز جليا) دا نظم تر اوسه ياد دے چې مونږ به وئيلو:

راغلې ازادي د تورو غرونو شاته لاړه
پښــــــتونه د بــــــر د بــــــر ژاړه

**پښتون:** د بابړې په واقعه ستاسو څۀ تاثر ؤ، تاسو ته څنگه پته ولگېده؟

**نياز:** په هغه ورځ ئې مونږ بېرکونو کښې بند ساتلي شوي وو. د رځړو محمد افضل کاکا ئې په هغه ورځ چارسدې ته تاريخ له بوتلے ؤ، چې واپس راغے نو چې څنگه په جېل رادننه شو نو چغې ئې کړې، دا خوني جنډه برباد، جناح برباد، قيوم خان برباد او وارډرانو پرې د ډنډو گوزارونه شروع کړل. لږ ساعت پس سالار امين جان راغے او مونږ ئې د واقعې نه خبر کړو. زمونږ د جېل د ملگرو رشته داران هم پکښې مړۀ او ژوبل وو، د زرين اباد د نصرالله خان زلمے زوے پکښې هم شهيد شوے ؤ. نصرالله خان هري پور جېل کښې د ولي خان دوي سره ؤ.

**پښتون:** هغۀ ته د خپل زوي د مرگ خبر ؤ؟

**نياز:** نۀ هغه نۀ ؤ خبر، يوه مياشت پس چې مونږ هري پور جېل ته چالان شو نو مونږ ورته حال ووې. د هغۀ کېفيت به زما نه چرې هم هېر نۀ شي.

**پښتون:** هري پور جېل کښې د ولي خان سره ستاسو څنگه وختونه تېر شوي دي؟

**نياز:** قيصه درته کوم. په ولي خان شېبره تبه راغلې وه، د جېل مشران ټول فکر مند وو چې اوس به څۀ کوو، ولي خان به په تبه کښې اوتې بوتې وې. بيا هلته يو اسسټنټ سپرنټنډنټ ؤ، ماسره د ۱۹۴٦ء د جېل د وخت اشنا ؤ، هغۀ لسټ کښې زما نوم ليدلے ؤ نو وئيل ئې دۀ له جهانزېب راولئ نو ښۀ به شي. زۀ

> چې صاحب حق صاحب به ترجمه او تفسير شروع کړو نو غني خان به ورسره په مسئلو کښې ونښتو او بحث مباحثه به ئې ورسره شروع کړه، سبق به په ځائے پاتې شو.

د سي کلاس نه ولي خان ته اې کلاس ته لاړم. بيا د ولي خان حالت ورو ورو ټيک شو. هلته ما کتابونه وئيل شروع کړل. ولي خان به راته انگرېزي ښودله او ماسټر کريم به راته اکنامکس ښودلو او د امازو گړي د صاحب حق صاحب نه به مو قرآن شريف تفسير او ترجمه هم وئيله. بيا چې ولي خان بل بېرک ته شو او غني خان راغے نو هم ماته دا فائده وشوه چې شعر و ادب سره مې دلچسپي سېوا شوه خو زمونږ د قرآن شريف سبق گډوډ شو.

**پښتون:** هغه څنگه؟

**نياز:** (په خندا) چې صاحب حق صاحب به ترجمه او تفسير شروع کړو نو غني خان به ورسره په مسئلو کښې ونښتو او بحث مباحثه به ئې ورسره شروع کړه، سبق به په ځائے پاتې شو.

**پښتون:** د تاجو بي بي د وفات واقعه خو دغه ورځو کښې شوي وه، د هغې په حقله راته څۀ وايئ؟

**نياز:** بالکل زما او د ولي خان دا معمول ؤ چې سحر به مو چمن کښې واک کولو. يوه ورځ مونږ سحر کښې چکر لگولو چې زرين خان کاکا ته د جېل يو سړي اواز وکړو او غوږ کښې ئې ورته څۀ ووئيل. زرين خان کاکا ځنگېدلے ځنگېدلے راواپس شو او ولي خان ته ئې غوږ کښې څۀ ووئيل. د ولي خان سترگو کښې اوښکې راغلې، په ژړا شو، ما ورته وئيل دادا ولې؟ وئيل بلو (ماته به ئې بلو وئيل) تاجو مړه شوه. هغه ورځ په مونږ د قيامت نه کمه نۀ

وه. تاجو بي بي زمانه تقريباً شپږ کاله مشره وه خو ماته خپل ټول وړوکوالے راياد شو، هغه لوبې هغه خپلو کښې جنګونه، زما وروڼه مونږ پسې راغلي وو خو مونږ ئې پرې نۀ ښودو. بيا يوه مياشت پس اربړ راغے چې دوي دې په پېرول لاړ شي. ولي خان ډېر غصه شو چې اوس مونږ په پېرول څۀ کوو. تر دغه وخته مونږ ته د اسفنديار خان د پېدائش څۀ پته نۀ وه. بيا څو ګېنټې پس ولي خان ملګرو تګ ته اماده کړو. مونږ چې راخلاص شو نو خلق دعا ته راتلل په دغه موقعه د مانړکي شريف پير صاحب هم راغے او وئيل ئې چې مونږ ته به باچا خان وئيل چې لکه د خرو به درباندې بارونه يوسي او بيا به مو ډېران ته وشړي. نو مونږ سره ئې هم هغه کار وکړو، دغه حال د عبدالغفور خان او ثمين جان خان هم ؤ.



**پښتون:** د شعر و ادب سره ستاسو تعلق د کله نه پېدا شوے دے؟

**نياز:** تعلق خو زما د وړوکوالي نه ؤ، د درېم څلورم جماعت نه به مې شعرونه وئيل. بيا د غني خان په وجه دغه شوق نور هم مخ په وړاندې لاړو. زما کوروداني ته ټول کرېډيټ ځي چې هغې زما ټوله شاعري سمبال ساتلې وه.

**پښتون:** مونږ اورېدلي دي چې تاسو به ډېر ښۀ ترنم کولو او تاسو به د خدائي خدمتګار په جلسو کښې نظمونه او ترانې هم وئيلې؟

**نياز:** ما به د مخفي صاحب نظمونه د غني خان ترانه او نور د وطن نظمونه په ترنم کښې وئيل. زما چې کله وادۀ ؤ نو ټول جنجيان لاړل او غني خان زۀ ايسار کړے وم چې دا ترانه "اې زما وطنه" ووايه نو هله به ځې او بيا ما ترانه په ترنم ووئيله. دې ترانې له دا طرز زما مشر ورور د غني خان په خوښه جوړ کړے ؤ.

**پښتون:** نياز صېب بيا لږ وروستو ځو، باچا خان چې انجمن اصلاح افاغنه تنظيم جوړکړو نو يو خو دې تنظيم سکولونه شروع کړل نورې هلې ځلې ئې څۀ وې؟

**نياز:** د انجمن مقصد د پښتنو نه د غلطو رسمونو رواجونو خاتمه وه، دا يو سماجي تنظيم ؤ د سکولونو سره دوېم کار باچا خان دا وکړو چې تجارت ئې شروع کړو. هغه وخت به پښتنو تجارت ته ډېر بد کتل، دې ته به ئې بنياتوب وې او چا چې تجارت شروع کړو نو پښتنو به وئيل چې ترکړې ئې په لاس کښې واخسته، ترکړې به ئې تلې ته وئيل نو باچا خان د شاه نواز خان سره په اتمانزو کښې منډۍ پرانسته، د هغې نوم ؤ ((خان عبدالغفار خان، حاجي شاه نواز خان فرم)) ؤ زما سره تر اوسه د هغې پېټوونه پراتۀ دي. (د شاه نواز خان نمسې، "د زوي لُور" د غني خان په زوے فريدون وادۀ دے).

**پښتون:** د شاه نواز خان د معافۍ قيصه د خدائي خدمتګار تحريک په ټولو کتابونو کښې شته، خو کۀ تاسو ئې لږ په تفصيل راته بيان کړئ. ځکه چې ستاسو د سترګو ليدلے حال دے؟

**نياز:** شاه نواز خان چې په ضمانت کور ته راغے نو ښځې او مور ورته په خبر راغلے ونۀ وې، دے چې د کوره بهر راوتو نو چا په يو غوئي د ګوړې ځته

اچولې وه، نو غوښې اخوا دېخوا کېدو نو مالک ورته وئيل څهٔ د شاه نواز حاجي په شان اوړې راوړې. د کار نهٔ ئې. پخوا به خلق په کوټه اودهٔ کېدل، دې د شپې په کوټه اودهٔ ؤ، چې سحر راکوزېدو نو په پوړو کښې ئې ځان په چړئيز ټوپک وويشتو. شادمحمد لالا (شادمحمد مېږے) وائي کنه.

چې د قام په ننګ و نام ئې ځان شهيد کړو
د حاجي شاه نواز خان وارثان مونږ يُو

**پښتون:** دے ولې په معافۍ يا ضمانت راغلے ؤ؟

**نياز:** هم هغې خبرې له راځم، دے خو نهٔ راتلو خو د منډهۍ ټول حساب کتاب پاتې ؤ، زما ورور ته ئې دغه حساب حواله کړے ؤ، خو هغه ناتجربه کاره هلک ؤ، نهٔ پوهېدو نو دے د باچا خان په مشوره او اجازت دې ته رضا شو، ځکه چې باچا خان هم جېل کښې ؤ او دے په نهٔ زړهٔ د جېله راووتو. حالانکې د خدائي خدمتګارو دپاره د سرکار نه معافي غوښتل لوئے جرم ؤ او لويو وړو به په کوڅو کښې دا لوبه وئيله چې چا به معافي وغوښتله نو هغه پسې به وئيل کېده:

فلانيه لعنتي
تا به نهٔ غوښته معافي
يوه ورځ به دې خوړلې وه د
جېل هغه پېتي

ماته ياد شي چې ما او د اسفنديار مور چې واړهٔ وو نو يو ځائے به کوڅو کښې ګرځېدو

باچا خان به مونږ ته وئيل چې کهٔ چا ما ته په بله ژبه کښې خط راولېږو نو زهٔ به ئې بغېر لوستلو واپس ورلېږم.

او دا لوبه به مو وئيله.

**پښتون:** د ژبې په حواله باچا خان څهٔ کول؟

**نياز:** باچا خان خو ژبه د يو قام دپاره ډېره ضروري ګڼله. پښتو کښې به ئې ډرامې سټيج کولې، مشاعرې به ئې کولې او بيا د ټولو نه لويه خبره دا وه چې په ۱۹۲۸ کښې ئې پښتون رساله شروع کړه، چې دا دے ترننه دغه تسلسل جاري دے او اوس ئې تاسو چلوئ. باچا خان به مونږ ته وئيل چې کهٔ چا ما ته په بله ژبه کښې خط راولېږو نو زهٔ به ئې بغېر لوستلو واپس ورلېږم.

**پښتون:** تاسو چې د خپلې سوانح عمرۍ کوم کتاب "قصه زما د ژوند" ليکلے دے، په هغې خو ډېر خفګانونه هم پېدا شوي وو.

**نياز:** او هغې کښې خو ځنې ذاتي زمونږ د کورنۍ خبرې وې چې زما د ډائرۍ نه رانقل شوې وې بيا ما په خپله پروف ونهٔ کړو او پاتې شوې، چې نهٔ وې پکار. ځنې خو سياسي حقيقتونه وو، چې په هغې زما نه د پارټۍ خلق خفه شوي دي، خو دغه خبرې کول او ليکل ضروري وو، ځکه چې دغه هر چا نهٔ شوې کولې. ما حق لرهٔ چې مې وکړې ګني بيا به پټې پاتې شوې وے.



پيرمحمد ، عبدالحکيم او جهانزيب نياز